برنا

# د افغانستان اسلامي امارت

**د امارتي شرکتونو لوی ریاست**

**د افغانستان برېښنا شرکت**

**د دفتر ریاست**

**د تحریراتو او مصوباتو د تعقیب پیگیری آمریت**

**د مصوباتو، هدایاتو، احکامو او فرامینو مدیریت**

گڼه: 3201/369

نېټه: 24/6/1404 — 22/3/1447

**د ریاست الوزراء درانه اقتصادي معاونیت ته!**

**اَلسَّلامُ عَلَیکُمْ وَ رَحْمَةُ اللّٰه وَ بَرَکَاتُه**

**موضوع: د عزیزي انرژۍ د پانګونې له شرکت سره د برېښنا پروژو د پیل په اړه جوړېدونکې کمېټې ته د استازو معرفي کول:**

ستاسو د دفتر محترم عمومي ریاست د ۱۴۴۷/۳/۱۶ نېټې ۱۲۰۹ ګڼه لیک په ځواب اړوند چې عزیزي انرژۍ د پانګونې له شرکت سره د برېښنا پروژو د پیل په اړه جوړېدونکې کمېټې ته د استازو معرفي کولو په تړاو د افغانستان برېښنا شرکت ته را رسیدلی په خورا درنښت لیکو:

د افغانستان برېښنا شرکت د پورته ذکر شوي موضوع اړوند چې د سلاکار ښاغلي ملا عبدالولي رحمت په مشرۍ په ۱۴۰۴/۶/۲۰ نېټه د پنجشنبې په ورځ د سهار لس(۱۰) بجې دایریدونکې جلسه کې د ګډون په موخه ښاغلی انجنیر سردارولي "رحیمي" د افغانستان برېښنا شرکت د برنامو ریاست رئیس د مبایل شمیره(0788600988) او ښاغلی انجنیر محمد ناصر "احمدي" د افغانستان برېښنا شرکت د عملیاتي چارو ریاست عملیاتي مرستیال، مبایل شمیره(0799480573)، خپل د با صلاحیته استازو په توګه په خورا درنښت در معرفي کوي.

**د نقلیه وسیلې مشخصات:**

**د دریور نوم: عبدالمجید ولد عبدالقیوم**

**د موټر ډول: هایلکس پایکپ**

**د موټر رنګ: سپین**

**د موټر نمبر پلیټ: ۱۲۴۵۲**

د یادونې وړ ده چې پورته ذکر شوي مشخصات د واټساپ له لارې په ۱۴۴۷/۳/۱۷ نېټه د محترم معاونیت له استازي سره شریک شوي دي.

**والسلام**

**مولوي احمد جان "بلال"**

**د امارتي شرکتونو عمومي رئیس**

**کاپي:**

امارتي شرکتونو لوی ریاست د دفتر محترم ریاست ته(اطمینان په موخه)

برنامو محترم ریاست ته

عملیاتي چارو محترم ریاست ته


پته: دهمزنګ – کابل - افغانستان

د اړیکي شمېره: 020-2513672

ویب پاڼه: www.dabs.af